رسول الله صلی ا لله علیه وسلم فرمایي : په رمضان میاشت کې یوه عمره د حج برابر او یا د هغه حج چې له ماسره یې کړی وي برابره ده.

آیا په جنت کې کور غواړې؟
رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: چا چې د الله د رضا په خاطر یو جومات جوړ کړ الله تعالی به ورته په جنت کې د هماغه جومات په شان کور جوړ کړي.

آیا غواړې دعاء دې قبوله شي؟
رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: د اذان او اقامت ترمنځ دعاء نه رد کېږي.

آیا غواړې د ټولې زمانې د روژې نیولو اجر ترلاسه کړې؟
رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: چا چې د رمضان میاشت روژه ونیوله او بیا یې ورپسې د شوال میاشتې شپږ روژې ونیولې لکه ټوله زمانه یې چې روژه نیولې وي.

عملي

" -خدای دې په ګل مه وهه! دروېزه به وکړم خو تا به ډاکټر ته رسوم."

ځواني ښځې ماشوم په سینه ونښلاوه او کلک کلک یې په تندي ښکل کړ.

ډاکټر منتظر وو ترڅو د مور او ماشوم د مینې روغبړ ختم شو، نو یې وپوښتل:

"-ولې دې وختي نه راوستلو؟ د بدن اوبه یې کمې شوې دي."

- " اوس یې هم نه پرېښودلم چې رایې ولم، ویل یې ښه دی چې مړ شي، له شیدو به یې بې غمه شم. پلار یې عملي دی".

خپل نفس ته ووایه

ورته ووایه تر کومه به دا ګناهونه وي، تر کومه اې زما غافل نفسه په داسې حال کې چې ته هره ورځ آورې چې فلانی مړ شو، قسم دې اې نفسه چې یوه ورځ به داسې راشي چې خلک به ستا د مرګ ووایي.

خپل نفس ته ووایه: اې نفسه! جنت د الله جل جلاله سره ریښتینولی او صداقت ته اړتیا لري.

ورته ووایه: اې نفسه څه لامل دی چې فلانی په سمه لار روان دی.

ورته ووایه: څه کمي راتلی شي که زه ځان خدای ته له رجوع کولو منع کړم، هیڅ هم نه، الله زموږ رجوع کولو ته اړتیا نلري.

توپیر . . . او توپیر

د وېرې او زړورتیا ترمنځ توپیر د لومړي ګام په پورته کولو کې دی، او د احتیاط او بدګومانی ترمنځ توپیر په دې کې دی چې لومړنی حالت د بدی د موجودیت احتمال او دوهم حالت د ځان ترجیح دی. د زړه د بېداری او غفلت ترمنځ توپیر په دې کې دی چې لومړنی حالت د بدی له احتمال سره سره د ښه ګومان ترجیح، او دوهم حالت په مطلق ډول د بدی د احتمال نه شتون دی. د نارینتوب او ښځې توب ترمنځ توپیر د لوبو شانو او خبرو په خوښولو کې دی، د لویی او کبر ترمنځ توپیر دا دی چې په لومړني حالت کې ځان په خپل مناسب ځای کې او په دوهم حالت کې بیا ځان له خپل مناسب ځای نه پورته وګڼي. د عاجزی او سپکوالي توپیر دا دی چې په لومړني حالت کې خپل ځان د ښه چلن له امله له خپل واقعي ځای نه ښکته وګڼي او په دوهم حالت کې د ذلت له وجې دا قبلوي چې نور خلک تا خوار کړي. (دکتور مصطفی سباعي)

رابعه به من آموخت

نوشته: د. أكرم كساب

ترجمه: عبدالخالق احسان

رابعه آموزشگاه است... آری! آموزشگاه شگفت انگیز... آموزشگاه منحصر به فرد...

رابعه آموزشگاهیست، بی‌نظیر در برنامه‌های آموزشی‌اش، بی‌نظیر در پیشاهنگ‌هایش، بی‌نظیر در زمانش، بی‌نظیر نسبت به شهیدانش و بی‌نظیر در همه داشته‌هایش.

آموزشگاهی است که کوچک و بزرگ، دانش آموخته و بی‌دانش، مرد و زن، مسلمان و مسیحی... در برابر او زانو زده اند.

من یکی از دانش آموخته‌ها و فارغان رابعه هستم، برخی از آن چه را که در رابعه آموختم، یاد آوری می کنم:

- ✓ رابعه به من آموخت: پاک‌ترین مردم از لحاظ پاکی قلب و بخشنده‌ترین مردم برای سرزمین، اسلام‌گرایان هستند؛ آنانی که موقع امتیازها اندک اند و موقع مشکلات زیاد.
- ✓ رابعه به من آموخت: معدن اصیل، هنگام سختی‌ها آشکار می‌گردد، این معدن اصیل منحصر به اسلام‌گرایان نیست؛ بل، دیگران نیز در آن سهیم اند و شاید بسا اوقات، یک انسان به ظاهر غیر ملتزم از یک انسان ظاهرگرا، موقف بهتر و نیرومندتری داشته باشد.
- ✓ رابعه به من آموخت: مردم همان‌گونه که بر دین فرمان‌روایان شان هستند؛ هم‌چنان بر دین صاحبان رسانه‌ها نیز، می‌باشند. تبهکاری رسانه‌ها، زود است که همه مردم را به تباهی بکشاند و فجوری رسانه‌ها، زود است همه مردم را به فسق و فجور مبتلا سازد؛ چهره‌ی عکاشه، لمیس، خیری و وائل از نظر مان دور نیست.
- ✓ رابعه به من آموخت: زشت‌ترین زیستنگاه‌ها، زیستنگاه‌های بشری است؛ زیستنگاهی، که در آن قوی ضعیف را می‌خورد، ارتش فرزندان ملت را بدون شفقت و رحمی می‌سوزاند؛ آنگاه که ستم‌گار، کشتار را بدون منفعت و مصلحتی حلال می داند و از کشتن بی‌گناهان لذت می برد.
- ✓ رابعه به من آموخت: شجاعت به گروه خاصی محدود نیست؛ بل، شجاعت عنصر گران‌بهای است که می‌توان آن را در وجود: زنان بزرگ‌سال، مردان کهن‌سال و اطفال کوچک هم دید.
- ✓ رابعه به من آموخت: احتیاط، تقدیر الهی را تغییر نمی‌دهد؛ کسی که عمرش به پایان نرسد، زنده می‌ماند، اگر چه چنگال‌های مرگ به جانش اصابت نماید، بسا کسانی که بعد برگشت از رابعه وفات کرده اند { أَيْنَمَا تَكُونُوا يُدْرِكْكُمُ الْمَوْتُ وَلَوْ كُنْتُمْ فِي بُرُوجٍ مُشَيَّدَةٍ }(النساء: 87) "هرکجا باشید، مرگ شما را در می‌یابد، اگرچه در برج‌های محکم و استوار جای‌گزین باشید" .بسا کسانی را که در میدان«رابعه و النهضه» مرگ از هر طرف احاطه کرده بود؛ اما تقدیر الهی بر ادامه‌ی زندگی‌شان رفته بود، زنده ماندند. هیچ کسی نمی‌میرد تا این‌که عمر و رزقش تکمیل گردد.
- ✓ رابعه به من آموخت: کسی که به امانت خیانت روا دارد، برایش امانتی سپرده نمی‌شود و کسی که دروغ بگوید و حقایق را بر ملت وارونه جلوه دهد، هرگز آینده‌اش اصلاح نخواهد شد. {إِنَّ اللَّهَ لَا يُصْلِحُ عَمَلَ الْمُفْسِدِينَ}(یونس: 81). "خداوند کار تبه‌کاران را (بقاء و دوام نمي‌بخشد و) شایسته و سودمند نمي‌گرداند" .
- ✓ رابعه به من آموخت: سکوت موقع ریختن خون‌ها جرم است؛ پنهان شدن در موقف‌های شجاعانه خیانت است؛ دوری از میدان نبرد موقع نیازمندی، مثل فرار از جنگ است؛ سیاست بی‌طرفانه در صورت واضح بودن قاتل و شناخت مقتول مظلوم، مشارکت در ظلم و قتل محسوب می‌گردد.
- ✓ رابعه به من آموخت: {در برنامه‌ی قتل}، قاتل قاتل است، معامله‌گر قاتل است، تشویق کننده قاتل است، تأیید کننده قاتل است، عملی کننده قاتل است و راضی و خشنود به قتل هم قاتل می‌باشد.
- ✓ رابعه به من آموخت: فریادهای محض حماسی جوانان، تا وقتی همراه‌شان هست که جای برای فریاد بیابند و امنیت شان تأمین باشد؛ اما، اگر قضیه بر عکس شد، از همه چیز می بُرند و گویا هیچ‌گاه حماسی و حاضر به صحنه نبوده اند.

- ✓ رابعه به من آموخت: باید به فقه اولویت‌ها اهتمام نموده و از جمله این‌که ایستاده‌گی در میدان‌ها به منظور مقابله با ستم‌گران، از روزه و نماز نافله برتر است.
- ✓ رابعه به من آموخت: غرب، غرب است و شرق، شرق؛ غرب خواهان شرق ذلیل و دنباله رو بوده و شرق را به حیث لیبرال و سکولار و دشمن اسلام می‌خواهد.
- ✓ رابعه به من آموخت: دموکراسی که نتیجه‌ی آن پیروزی غیر اسلام‌گرایان باشد، مورد تأیید غرب قرار می‌گیرد؛ اما، اگر اسلام‌گرایان با استفاده از دموکراسی به پیروزی برسند، غرب نتیجه‌ی آن‌را تأیید نمی‌کند و نزدش قابل قبول نیست.
- ✓ رابعه به من آموخت: برخی شیخ‌ها و عالم‌نمایان، وقتی صدای خویش را بلند می‌کنند که در امان بوده و سلامتی‌شان تضمین گردد؛ اما، آن‌گاه که جدیت لازم است و مکلفیت‌ها زیاد می‌گردد، آن‌ها پنهان شده و به فکر خویشتن می‌شوند و به این باور می‌رسند که بشنو و اطاعت کن، اگر چه ترا لت و کوب کنند و مالت را بربایند.
- ✓ رابعه به من آموخت: به فساد کشاندن مردم تنها توسط رسانه‌های گمراه کننده و هنرهای منحط صورت نمی‌گیرد؛ بل، توسط عباء و قبای عالم‌نمایان و ریش‌های دراز نیز، می‌تواند صورت بگیرد که ملت را به غاصبان تسلیم می‌دهند.
- ✓ رابعه به من آموخت: این‌که دولتی بدون دین و دینی بدون دولت ایجاد نمی‌گردد، یا قرآن‌کریم به حیث شعار بلند می‌شود و یا این‌که صلیب حاضر می‌گردد و کلیسا در کمین می‌باشد.
- ✓ رابعه به من آموخت: هیچ دعوتی بدون قوت پیروز نمی‌گردد، قوت و نیرومندی تنها قوت سلاح نیست؛ بل، قوت علمی، قوت ملی، قوت رسانه‌ای و قوت آماده‌گی و از همه مهم‌ترین قوت عقیده، قوت برادری و قوت بازو می‌باشد.
- ✓ رابعه به من آموخت: عقیده تنها متن‌های نیست که حفظ گردد و قربانی در راه دین، تنها سخنانی نیست که گفته شوند؛ برخی کسانی هستند، که از ولاء و براء (دوستی و دشمنی)، زیاد سخن می‌گویند؛ اما اگر ابن تیمیه، ابن حنبل و طحاوی رحمهم الله زنده می‌بودند، به روی آن‌ها تف می‌انداختند.
- ✓ رابعه به من آموخت: پیروزی تنها رسیدن به مسند حکومت نیست؛ بل، پیروزی واقعی ثبات بر اصول و قربانی به خاطر اساسات و باورهاست و ماجرای (اصحاب اخدود)، تنها داستانی نیست که گذشته باشد؛ بل، این داستان همیشه تکرار می‌گردد و در هر برهه‌ی از زمان، کسانی خواهند بود که در راه عقیده‌ی شان قربانی دهند و فداکاری نمایند.
- ✓ رابعه به من آموخت: فریاد و سروصدا، پیروزی به ارمغان نمی‌آورد، قلعه‌ی را فتح نمی‌کند و دشمن را شکست نمی‌دهد؛ اما، آن چه نصرت و پیروزی را به ارمغان می‌آورد، توکل حقیقی است که با استفاده از اسباب، همراه باشد.

ملي وحدت حکومت؛
دوه کلن مزل او راتلونکی برخلیک

د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز

مقدمه

په افغانستان کې د ملي وحدت حکومت په تېره دوه کلنه دوره کې د حکومت د دواړو مشرانو ترمنځ لږه همغږي موجوده وه او په ډېرې مسائلو کې يې اختلافات درلودل؛ خو اوس بيا دغه اختلافات خپل اوج ته رسېدلي دي. اجرائيه رئيس ډاکتر عبدالله عبدالله د زمري مياشتې په ۲۱مه په يو مطبوعاتي کنفرانس کې پر ولسمشر اشرف غني تونديې نيوکې وکړې او ويې ويل: «څوک چې حوصله نه لري، د ولسمشرۍ وړ نه دی..». نومورې ولسمشر غني په چارو کې په خپلسرۍ تورن کړ او زياته يې کړه، چې«ولسمشر حتی په دريو مياشتو کې هم يو ځل له خپل اجرائيه رئيس سره نه گوري»

د اجرائيه رئيس له څرگندونو يوه ورځ وروسته، ارگ هم د يوې اعلاميې په خپرولو سره د ډاکتر عبدالله خبرې«د دولتدارۍ د موازينو او روحيې خلاف» وبللې او دغه راز ولسمشر غني د ځوانانو د نړيوالې ورځې په نمانځغونډه کې وويل، هغه کسان دی د قدرت په انحصار تورنوي چې د ده په خبره، د اداري فساد پر وړاندې مبارزه کې د هغوی گټې له خطر سره مخ شوې دي.

ملي وحدت حکومت په تېرو دوو کلونو کې د ناامنيو، له افغان طالبانو سره د تودې جگړې، په هېواد کې مخ پر ځور اقتصادي وضعيت او ورځ تر بلې د مشروعيت د بحران په څېر ننگونو سره مخ شو؛ خو له تېرو دوو اوونيو راهيسې بيا له پراخو او ژورو داخلي اختلافاتو سره هم مخ شوی. که څه هم د حکومت مشرانو په تېرو دوو کلونو کې په ځينو قضيو کې مخالف او متفاوت نظرونه درلودل؛ خو اختلافات يې تر دې کچې نه وو رسېدلي، چې د يو بل خلاف په دومره تونده لهجه نيوکې او څرگندونې وکړي.

په نړيواله کچه د ملي وحدت حکومتونه، په افغانستان کې د ملي وحدت حکومت تجربه، په تېره دوه کلنه دوره کې د دغې نوې تجربې بريا او ناکامي او په حکومت کې روان وضعيت ته په کتلو سره د دغه حکومت د راتلونکي جاج هغه موضوعات دي، چې د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز د اوونيز تحليل څانگې، د دې اوونۍ په تحليل کې پرې شننه لولئ.

د ملي وحدت حکومتونو نړيواله تجربه

په عمومي ډول د ملي وحدت حکومتونه په ځينو هېوادونو کې له اوږدې جگړې وروسته او يا هم په يوه بېړني حالت کې، د ډېرې يا ټولو لوريو له‌خوا د يوه اېتلافي حکومت په بڼه جوړېږي. د دغو حکومتونو گټه دا وي، چې د جگړو، اضطراري حالاتو او د قومي لانجو پرمهال تر څه حده د هېواد پر امنيت او ثبات مثبته اغېزه کوي؛ ځکه د هېواد ټول لوري او يا مهمې ډلې پکې وي.

په تېره يوه پېړۍ کې په نړۍ کې د ملي وحدت حکومتونو يو شمېر بېلگې شته دي او په انگلستان، اسرائيلو، زمبابوې، نيوزيلانډ، ايټاليا، يونان، کينيا، سريلانکا، نيپال او يو شمېر نورو هېوادونو کې يا د«ملي وحدت» په نامه او يا همدې ته په ورته نامه جوړ شوي دي. په يادو شويو هېوادونو کې د«ملي وحدت حکومت» يوه بېلگه هم هومره بريالۍ نه شوه، چې هغه دې په سياسي قاموس کې يوه بېلگه او اېډيال حالت وبلل شي.

په يو شمېر افريقايي هېوادونو کې له اوږدو جگړو او د ټاکنو پر سر له لانجو وروسته دغه ډول حکومتونه په دې موخه رامنځته شول، چې هېواد له ډېر خراب وضعيت څخه د لږ خراب وضعيت په لور بوځي. ځکه نو د ملي وحدت حکومتونو ته، د جگړې او کړکېچ د کمولو لپاره د يوې لنډمهالې حل لارې په سترگه کتل کېږي، ترڅو د سولې او جوړجاړي لپاره يو داسې ماحول جوړ کړي،

چې په اوږده مهال کې بدلونونو ته لاره هواره کړي.

په افغانستان کې د ملي وحدت حکومت تجربه

د ۱۳۹۳ کال ولسمشریزو ټاکنو د دویم پړاو د پایلو پر سر د دوو مخکښو نوماندانو، اشرف غني او ډاکټر عبدالله ترمنځ ناندرۍ او اختلافات راپورته شول او له څو میاشتو دوام وروسته، دواړو ټاکنیزو ډلو د امریکا د بهرنیو چارو وزیر په منځګړتوب، د ملي وحدت حکومت پر جوړولو هوکړه وکړه. لاهم معلومه نه ده، چې په ۱۳۹۳ کال کې د ملي وحدت حکومت د جوړولو طرحه لومړی د چا له‌خوا وړاندې شوه؛ خو نړیوالې ټولنې له دغې طرحې تود هرکلی وکړ؛ ځکه هغه مهال یوه لوري هم د بل لوري بشپړه بریا نه منله او د ټاکنو پایلې له بن‌بست سره مخ وې.

له هېواده د روسانو له وتلو وروسته هم، د افغان مجاهدینو ډلو اوسني ملي وحدت حکومت ته ورته یو حکومت جوړ کړ؛ خو هغه حکومت هم خپلې موخې ته ونه رسېد. دغه راز د ۱۳۸۹ کال ولسمشریزو ټاکنو پر پایلو د لانجې پر مهال هم، د امریکا د متحده ایالاتو له خوا د یوه ورته حکومت جوړولو وړاندیز شوی و، خو هغه مهال بیا د حامد کرزي له خوا دغسې حکومت ونه منل شو.

اشرف غني او ډاکټر عبدالله د ۱۳۹۳ کال د تلې میاشتې په ۷مه (د ۲۰۱۴ کال د سپټمبر په ۲۹مه) بالآخره د ملي وحدت حکومت پر جوړولو موافقه وکړه او په دې توګه د هېواد په تاریخ کې په لومړي ځل مشخصاً د«ملي وحدت» تر نامه لاندې د دوو لورو یو ایتلافي حکومت جوړ شو.

دا چې آیا هغه مهال د ملي وحدت حکومت جوړول یوه سمه پرېکړه وه او که نه؟ په اړه یې څه ویل ډېر ستونزمن دي؛ خو بیا هم دغه حکومت له جګړې وروسته د ټولو لوریو له‌خوا نه دی جوړ شوی، بلکې دا یوازې د ټاکنو د پایلو پر سر د دوو ډلو د مخالفتونو له کبله جوړ شو، ترڅو د دواړو ګټې خوندي او دواړه د حکومت برخه شي.

د ملي وحدت حکومت د تېر دوه کلن مزل ارزونه

د ملي وحدت حکومت نږدې دوه کلونه پوره شول؛ خو پوښتنه دا ده چې آیا دغه حکومت په تېرو دوو کلونو کې بریالی و که ناکام؟ مورږ دغه پوښتنه په دوو برخو کې ځوابوو:

لومړی: د هېواد د عمومي وضعیت په کچه؛

دویم: د ملي وحدت د هوکړه‌لیک په کچه.

د هېواد د عمومي وضعیت په کچه: که په امنیت، اقتصادي وده، اداري فساد، کډوالو او نورو برخو کې د ملي وحدت حکومت له تېر حکومت سره پرتله کړو نو جوتېږي، چې د ملي وحدت حکومت د هېواد د وضعیت له نظره ناکام شوی. په ۲۰۱۴ کال د افغانستان اقتصادي وده ۱,۳ سلنه وه، په ۲۰۱۵ کال کې ۱,۵ سلنه وه او په ۲۰۱۶ کال کې ۲ سلنه اټکل شوې ده، چې له ۲۰۰۱ کال راهیسې تر ټولو کمه سلنه ده. همدا راز د امنیت په برخه کې هم د ملي وحدت حکومت له جوړېدو راوروسته، یو شمېر ولسوالۍ سقوط شوې، د کندز ستراتېژیک ښار سقوط او دوو اوونیو لپاره د طالبانو ولکې ته ورغې، ناامنۍ او چاودنې زیاتې شوې، جنایي جرمونه زیات شول او د افغان حکومت تسلط یوازې پر ۶۵ سلنه خاورې پاتې شو، چې له ۲۰۰۱ کال راهیسې تر ټولو کمه کچه ده. د دې ترڅنګ د کډوالو په برخه کې هم، د امنیتي او اقتصادي عواملو له کبله ډېرې افغانان اروپا ته ولاړل، چې له ۲۰۰۱ کال راهیسې یې مخینه نشته.

د ملي وحدت د توافقنامې په کچه: د ملي وحدت په سیاسي توافقنامه کې، چې څومره ژمنې شوې، ډېرې یې تراوسه هم نه دي عملي شوې. د بېلګې په ډول: که څه هم د دغه هوکړه‌لیک له مخې د اجرائیه ریاست پوست رامنځته شوی، اجرائیه رییس له تېرو دوو کلونو راهیسې خپل چارې مخته وړي او د دواړو مشرانو له‌خوا -له اختلافاتو سره سره- لوړپوړي دولتي چارواکي ګومارل شوي؛ خو له دې وراخوا په اساسي قانون کې د تعدیل په موخه لویه جرګه نه ده رابلل شوې، په ټاکنیز قانون کې اصلاحات نه دي راوړل شوي، پر ټولو هېوادوالو د هویت تذکرې نه دي وېشل شوې او نه هم د ولسوالیو شوراګانو او ولسي- جرګې ټاکنې ترسره شوې. دا ټول هغه ټکي دي، چې د ملي وحدت حکومت په هوکړه‌لیک کې پرې ټینګار شوی و.

د ملي وحدت حکومت د اختلافاتو او ناکامۍ لاملونه

دا چې د ملي وحدت حکومت ولې په تېرو دوو کلونو کې له ناکامۍ سره مخ شو، لاملونه یې په لاندې ډول دي:

لومړی؛ په خپله د ملي وحدت حکومت فلسفه: په افغانستان کې ملي وحدت حکومت، د ټاکنو د پایلو پر سر له لانجې وروسته رامنځته شو او دغه حکومت د څو ډلو او څو ایډیالوژیو خاوندانو ته تر یوه چتر لاندې ځای ورکړ. د نړۍ په ډېرې هېوادونو کې د ملي وحدت حکومتونه له اوږدو جګړو وروسته رامنځته کېږي؛ خو بیا هم په کومو هېوادونو کې چې د ملي وحدت حکومتونه تجربه شوي (د بېلګې په ډول زمبابوې، کینیا او کمبوډیا) هلته دا حکومتونه ناکام شوي او یوازې یې ترڅو کلونو پورې دوام کړی.

دویم؛ سیاسي اختلافات: دواړو لورو له یو بل سره له پخوا څخه اختلافات درلودل او دغه اختلافات بیا د حکومت د ځینو دریځونو پرمهال رابرښد شول او ان د ځینو لوړپوړو چارواکو د استعفاوو تر بریده هم ورسېدل. د دې ترڅنګ د افغان ولسمشر اشرف غني

پرضد د ډاکتر عبدالله د وروستیو څرګندونو تر شا په جمعیت اسلامي ګوند کې د ډاکتر عبدالله د نفوذ کمبدل او څنډې ته کبدل هم رول لري. ډاکتر عبدالله په دغه کار سره وغوښتل چې پر ولسمشر د فشار ترڅنګ، د جمعیت اسلامي ګوند ملاتړ داسې مهال راخپل کړي، چې په نژدې راتلونکي کې به د دغه ګوند کنګره ټاکل کبږي.

دریم؛ له حزب اسلامي (حکمتیار) سره د احتمالي جوړجاړي اغبزې: له څو میاشتو راهیسې د حکمتیار په مشر ی اسلامي حزب سره د سولې خبرې اترې روانې دي. دا چې ولسمشر غني ځواکمن ګوندیز ملاتړ نه لري؛ نو داسې انګبرل کبږي، چې د هبواد سیاسي ډګر ته د حزب اسلامي (حکمتیار) راتګ به د اشرف غني مټ پیاوړی کړي او دا هغه څه دي چې د مقابل لوري لپاره د مزاحمتونو معنا افاده کولی شي.

څلورم؛ د صلاحیتونو په اړه دوه ګونی مفهوم: د صلاحیتونو تفکیک هم هغه ستونزه ده چې د حکومت په ناکامۍ کې یې خپل رول لوبولی دی. ولسمشر غني فکر کوي چې د اوسني اساسي قانون له مخې په یو شمبر پربکړو کې اړ نه دی چې د اجرائیه ریاست موافقه له ځان سره ولري. له بلې خوا اجرائیه رئیس بیا فکر کوي چې په حکومت کې ۵۰ سلنه شریک دی او له همدې کبله باید ولسمشر په مهمو تعیینـاتو او پربکړو کې د هغه موافقه واخلي. د دې ترڅنګ د ملي وحدت په هوکړه‌لیک کې هم په جزئیاتو سره د صلاحیتونو تفکیک نه دی شوی.

پنځم؛ د راتلونکي په اړه غیرواضح تصویر: دواړه لوري د راتلونکي وضعیت او په ځانګړي ډول د حکومت د راتلونکي په اړه روښانه تصویر نه لري. ډاکتر عبدالله ښایي دغه حالت د ځان په زیان وبولي؛ ځکه د هغه د پوسټ لپاره په هبواد کې قانوني ضمانتونه نشته. همدا لامل و، چې څو میاشتې مخکې کله چې د امریکا د بهرنیو چارو وزیر د ملي وحدت حکومت د قانوني مودې په تړاو څرګندونې وکړې، د هبواد په کچه یې ډېر غبرګونونه راوپارول او ملي شورا هم دا د هبواد په کورنیو چارو کې یوه ناسمه مداخله وبلله.

شپږم؛ د ژمنو نه عملي کبدل: د ملي یووالي حکومت د ناکامۍ یو لامل دا هم دی، چې تر ډېره یې هغه ژمنې عملي نه شوای کړای، چې دواړو مشر انو د ټاکنو پرمهال کړې وې. همدا راز ډېری هغه ژمنې یې هم عملي نه شوای کړای، چې د ملي وحدت په هوکړه‌لیک کې یې کړې وې. له همدې ځایه، له یوه لوري د حکومت په اړه په خلکو کې بې‌باوري کمه شوه او له بلې خوا په ملي وحدت حکومت کې د اجرائیه رئیس شریکې ډلې له خوا اختلافات پیل شول.

اووم؛ د هبواد امنیتي وضعیت: په هبواد کې روانه جګړه هم له هغو عواملو څخه ده، چې د ملي وحدت حکومت یې له سختو ننګونو سره مخ کړی او له همدې کبله د ملي وحدت حکومت د اقتصادي پروګرامونو په لاره کې خنډونه جوړ دي. د دې ترڅنګ د هبواد د خرابېدونکي وضعیت له کبله هم پر حکومت بې‌باوري زیاته شوې او حکومت اوس غواړي د دا ډول اختلافي څرګندونو پرمټ پرځان نیوکې راکمې کړي.

د ملي وحدت حکومت راتلونکی

په عمومي ډول د ملي وحدت حکومت راتلونکی له لاندې ټکو سره تړل شوی دی:

لومړی؛ د ملي وحدت حکومت دننه د اختلافاتو حل کبدل او کمبدل: د اجرائیه رئیس او ولسمشر له تونډو څرګندونو یوه اوونۍ وروسته، د حکومت دواړو مشرانو تېره چهارشنبه په ارګ کې سره ولیدل. دغه کتنه، چې په«صمیمانه فضا کې» ترسره شوې، اجرایه رییس پکې خپلې اندښنې او غوښتنې له ولسمشر سره شریکې کړې. که څه هم د دغې کتنې جزئیات نه دي خپاره شوي؛ خو بیا هم داسې اټکل کبږي، چې د ملي وحدت حکومت په هوکړه‌لیک کې د شوو ژمنو او د ځینو نورو سیاسي خبرو په اړه پکې بحث شوی. په دویمه غونډه کې به افغان ولسمشر د اجرائیه رییس د اندښنو او غوښتنو ځواب ووایي او په درېیمه غونډه کې به بیا دغه راپورته شوي اختلافات حل شي. د ملي وحدت حکومت په لنډ مهال کې په دغو دریو کتنو متکي دی او په اوږده مهال کې بیا له لاندې نورو عواملو سره تړاو لري.

دویم؛ د نړیوالې ټولنې ملاتړ: په حکومت کې دننه د ډاکتر عبدالله او اشرف غني د اختلافاتو له کمبدو وروسته به، د ملي وحدت حکومت راتلونکی برخلیک د نړیوالې ټولنې پر ملاتړ متکي وي.

دریم؛ د دویم کال د مشروعیت له بحرانه وتل: د ملي وحدت حکومت پر وړاندې د اشرف غني او ډاکتر عبدالله له اوسنیو اختلافاتو وراخوا تر ټولو لویه ننګونه د مشروعیت له بحران څخه وتل دي؛ ځکه د هبواد دننه یو شمبر سیاسیون پر دې ټینګار کوي، چې د ملي وحدت حکومت له دوه کلنې مودې پوره کبدو سره، د دغه حکومت مشروعیت پای ته رسبږي.

څلورم؛ د هبواد مجموعي وضعیت ښه کول: عموماً په هر ځای کې د حکومتونو دوام د هبواد پر مجموعي وضعیت متکي وي، چې افغانستان هم تر مستثنا نه دی. که چېرې د امنیتي وضعیت ترڅنګ اقتصادي وضعیت هم د اوس او تېر کال په پرتله ښه شي، نو ښایي چې دغه حکومت تر پنځو کلونو پورې دوام وموميي.

زړه سم کړه، ژوند به دې سم شي!

لیکنه او ټولونه: قاضي محمد حسن اسلامي

د انسان زړه دوه اړخه لري: مادي او معنوي. د زړه د هر جانب په اړه معلومات پیچلی دی، وربانـدې سم پوهیدل گران دی، هر اړخ یې پـر انسـان حـق لـري، غوښتنې لري، له حوادثو سره مخ کیږي چې د حـق اداء کول یې پوښتنو ته یې معقول او مناسب ځواب ویل او د حوادثو پر مهال ورسره سم، گتـور، پرځـای او پر وخت تعامل کول دي.

د زهـد او تصـوف کـره علـماء زړه پـر درې ډولونـو: (سلیم سقیم او مړه) ویشي!

په دنیا کې هـر شـی د یـوه ځـانگړي کـار لپـاره پیـدا شوی دی چې که هغه کار یې سرته رسـولی شـوای، نو سلیم دی او که یې هغه دنده سمه نهشـوایترسره کولی، نو پوه شه چې ناروغ او یا مړ دی.

د زړه دندې:

زړه ددې لپاره پیدا شوي دی چې: خپل رب، خـالق، مالک، روزې ورکـوونکی، معبـود، عـزت ورکـوونکی او ذلت ورکوونکی، ساتوونکی او هلاکوونکی وپیژني.

خپل خـالق او مالـک تـه انابـت، عـاجزي، او بنـدگي وکړي.

د هغه تعالی سره مینه ولري، پـر هغـه توکـل او بـاور ولري.

له هغه تعالی څخه خوف او ویره ولري. د هغه د رضا د لاسته راوړلو لپـاره هـر ایثـار او ښـندنې تـه چمتـو وي، د هغه د رضا لاسته راوړل ورته تر ټولو نعمتونـو لوړ او ارزښت من وي، د الله له خوښی نـه پرتـه نـور ټـول نعمتونـه ورتـه عـذاب، بـدبختي او د هلاکـت اسـباب وبریښـي. کـوم زړه چـې داسـې ؤ، نـو هغـه سـلیم او روغ زړه دی او چـې داشـیان پکـې څـومره کمزوري وو، په همغه کچه ناروغ دی او که بیخي یې نښه پکې نه وه، نو دا زړه مړ دی.

په آخرت کـې الله تعـالی هغـه چـا تـه نجـات ورکـوی چې له دغسې سلیم زړه سره الله ته ورشي؟ (يَوْمَ لَا يَنْفَعُ مَالٌ وَلَا بَنُونَ * إِلَّا مَنْ أَتَى اللَّهَ بِقَلْبٍ سَلِيمٍ) [الشعراء ۸۸-۸۹]

زړه هغه پاچا دی چې د انساني بدن پر نرۍ واکمني چلوي، که دغه سالم ؤ، نو نور (رعیت) بدن ته سـمه قومانده ورکوي او که ناروغ ؤ، نو دا طبیعي خـبره ده چې خراب فرمانونه به ورته صادروي.

د زهد او تزکیې علماء وایي: د انسان دهر وړوکـي او غټ عمل ثبتولو لپاره دوه دفتره دي، هغه د (لم) او (کیف) دفترونه دي، عمل مجـرد او یـوازې نـه لیکـل کیږي، بلکې داسې لیکل کیږي چـې دا عمـل یـې د څه لپاره کړی؟ په دې کې د دې عمل هڅوونکي تـه اشاره ده چې د عمل محرک، انگیزه او باعث څـه ؤ؟ د الله لپاره ؤ اوکه نـه؟! نـورې انگېـزې او بواعـث یـې درلودل، یعني مخلصانه ؤ او که نه؟ څـه هـوا، هـوس او نور څه دې کار او عمل ته هڅولی دی؟

او په (کیف) کې د عمل طریقې او څرگوالي ته اشاره ده چې د چا په طریقه یې عمل تر سره کړی دی، د رسول الله اتباع ته اشاره ده چې پـه هغـې برابـر دی که نه؟ نو د عمل د قبول لپاره همدا دوه مهم شـیان دی: اخـلاص او اتبـاع. بـې اخلاصـه او د رسـول الله صلی الله علیه وسلم له طریقې مخالف عمل، الله ته قبـول نـه دی او زړه د اخـلاص مرکـز دی، زړه چـې سلیم وي نو اخلاص به پکې وي.

علماء کرام وایي: د سـلیم زړه څښـتن مسـلمان، لـه عمل څخه زیات د خپل عمل تصحیح ته پـام کـوي. یعني مونږ مسلمانان یوازې پـر عمـل مکلـف نـه یـو، بلکې د هغه پر سم او روغه توگه سرته رسول هـم د عمل کولو برخه ده او همدې ته احسان وایي.

زړه د الله په یاد او ذکر ژوندی وي

ابوالحسن الوراق دزهد له کره علماوو څخه دی چـې وایي: حیاة القلب في ذکرالله الحي الذي لایموت.

وایـي: د ذکـر فـوت کیـدل د انسـان د روح لـه فـوت کیـدلو (مـرگ) څخـه ډیـر سـخت او خطرنـاک دي، ځکه د ذکر په فوت کیدلو د انسان انقطاع عن الحق راځي او پـه مـرگ سره د انسـان انقطـاع عـن الخلـق راځي، د خلکو څخه جلا کېدل خو طبیعي خبره ده یا وړاندې یا وروسته، خـو لویـه خسـاره او تـاوان خـو دادی چې سړی د الله تعالی له رحمت څخـه لـرې او محروم شي.

ثبات و استقامت

عنوان سمینار سه روزه‌ی جمعیت اصلاح افغانستان، در پیوند به آموزش و تربیت

گروپ رسانه‌یی اصلاح- حمیدالله غفاری

سمینار سه روزه آموزشی و تربیتی تحت عنوان« ثبات و استقامت» از سوی زون مرکزی جمعیت اصلاح افغانستان، برای اعضا و همفکران این جمعیت راه اندازی شد، که این سمینار، از تاریخ 27 تا 29 اسد ادامه داشت.

مسؤولین اداری زون مرکز، هدف از برگزاری این سمینار آموزشی و تربیتی را تقویت روحیه‌ی وطن‌دوستی، تعارف میان اعضا و همفکران در زون مرکز، قوت بخشیدن به روحیه‌ی سمع و اطاعت، ثبات و استقامت در راه دعوت و اهمیت کار گروهی درین مسیر خواندند.

این سمینار تربیتی-دعوتی سه روزه، ساعت چهار بعد از ظهر روز چهارشنبه 27 اسد آغاز و با ادای نماز جمعه، ظهر روزجمعه 29 اسد، خاتمه یافت.

سمینار که گردانندگی آن را، استاد "حمدالله فایق" مسؤول تربیتی زون مرکز به دوش داشت، با تلاوت آیاتی از کلام الله مجید توسط قاری محمد اکبر مدثر آغاز گردید.

سپس مولوی مظهرالدین فائز، مسؤول عمومی زون مرکز جمعیت اصلاح به مشارکین این سمینار، خوش آمدید گفته و آرزو نمود تا سمینار سه روزه با خوشی و موفقیت سپری شده و در تقویت ایمانی مشارکین مثمر واقع شود.

همچنان، موصوف مقررات سمینار را به مشمولین توضیح داده و مشارکین را به گروپ‌های متعدد تقسیم نمود.



در جریان این سمینار سه روزه، که برنامه‌ها و درس‌های متعددی را در بر داشت، برعلاوه‌ی درس های از استادان، احادیثی از پیامبر بزرگوار اسلام -صلی الله علیه وسلم- نیز، توسط علمای مربوط به زون مرکز، با شرح و تفصیل آن تقدیم حاضرین شده و اذکار و مأثورات صبح و شام نیز، در بین گروپ‌ها قرائت می‌گردید.

همچنان در خلال این سمینار سه روزه آموزشی، باتوجه به جایگاه و اهمیت ورزش در زنده‌گی، مسؤولین به ورزش نیز وقت مناسب تعیین کردند که هر روز صبح بعد از نماز و اذکار برای یک ساعت همه مشمولین سمینار را به ورزش فراخوانده و حرکت‌های نرمشی به ایشان تمرین داده شد.

در خلال سه روز این سمینار آموزشی، برعلاوه‌ی برنامه‌های مختلف فرهنگی، روحی و عبادی، شش درس عمده‌ی دیگر نیز، در نظر گرفته شده بود که به گونه‌ی ذیل به مشارکین سمینار ارائه گردیدند:

- درس نخست از استاد امین الله معتصم، مسئوول عمومی بخش تربیت و انکشاف مهارت‌های جمعیت اصلاح بود، که روی موضوع«چگونگی نظم در حرکت اسلامی» ارائه گردید.
- درسی تحت عنوان«ویژه‌گی‌های حرکت اسلامی» که توسط مهمان برنامه، استاد عبدالباری قانت مسؤول زون غرب جمعیت اصلاح، ارائه گردید.
- بحث و تبادل نظر، در مورد وضعیت کنونی افغانستان و کشورهای اسلامی که توسط داکتر وحید الله مصلح، معاون مرکز مطالعات ستراتیژیک و منطقوی ارائه گردید.
- همچنان بحثی با عنوان«جمعیت اصلاح و دست آوردهای 13 ساله» شامل آجندا بود، که توسط دکتور عبدالصبور فخری رئیس جمعیت اصلاح افغانستان، تقدیم گردید.
- اهمیت سمع و اطاعت در کار گروهی، بحث دیگری بود، که توسط شیخ القرآن مولانا عبدالصبور، رئیس مجمع علمی علمای افغانستان ارائه گردید.
- درس«ثبات و پایداری در دعوت اسلامی» توسط دکتور فصیح الله، استاد پوهنتون سلام تقدیم حاضرین گردید.

به همین گونه، برنامه‌های جالب دیگری چون: خوانش ترانه‌ها و اجرای پارچه‌های تمثیلی، که از سوی جوانان مربوط به نهاد جوانان مسلمان(نجم) تهیه و ترتیب شده بود، به زیبایی این سمینار افزوده و در تحکیم اخوت اسلامی سهم خویش را ایفا کردند.

در روز آخیر، محترم مولوی مظهرالدین فائز مسؤول عمومی زون مرکز و مسؤول تدویر این سمینار تربیتی و آموزشی، سمینار را نتیجه گیری نموده و آن را در راستای تحکیم اخوت اسلامی، تقویه‌ی روابط میان اعضا و همفکران جمعیت اصلاح، تقویه‌ی احساس وطندوستی و خدمت به هم میهنان، مفید دانسته و در مورد راه اندازی برنامه‌های همانند در آینده‌ها نیز خبر داد.

موصوف، از مسؤولین امنیتی ساحه، به خصوص آمر حوزۀ 17 امنیتی شهر کابل، سمونوال غلام الله نورستانی، اظهار تشکری نمود، که در تأمین امنیت این سمینار، کوشش نمودند و با تقدیم تحفه‌ی که شامل چند جلد کتاب می شد، به خدمات ایشان ارج گذاری نمودند.

متقابلاً، سمونوال غلام الله نورستانی، آمر حوزه‌ی هفدهم پولیس شهر کابل، از تدویر چنین برنامه‌ها، برای تربیت نسل جوان و وحدت و یک‌پارچگی میان افغان‌ها استقبال کرده و از نظم و اداره‌ی این سمینار توصیف به عمل آورد موصوف در ضمن وعده سپرد، که با برنامه‌های جمعیت اصلاح از هیچ نوع همکاری دریغ نمی ورزد.

این سمینار، که در آن بیشتر از 500 تن از اعضا و همفکران جمعیت اصلاح، از ولایت های کابل، کاپیسا، پروان، پنجشیر، خوست، لوگر، میدان وردک و پکتیا اشتراک داشتند، با توزیع تحایف و جوایز و دعائیه‌ی محترم قاضی محمد حسن اسلامی، مسؤول کتابخانه‌ی امام فخرالدین رازی، پایان یافت.

هفته نامه
بجز اصلاح اراده دیگری ندارم
اصلاح ملی
داسلام داصیل فهم منبر

- اصلاح ملی در ویرایش مطالب دست باز دارد.
- مطالب آمده مسترد نمی شود.
- مطالب منتشره بیانگر آرای نویسنده گان است.

شعارما

اصلاح فرد، خانواده و جامعه.
تأمین عدالت اجتماعی و قانونیت درکشور.
ترقی و انکشاف همه جانبهء افغانستان.

با خرید تولیدات وطن
در رشد اقتصاد کشور سهم بگیرید

کمپاین سرتاسری
تقویه تولیدات وطنی و استعمال بانکنوت های افغانی

مرکز تشخیصیه لابراتوار طبی سفیر
Safir Medical Laboratories

Safir Medical Laboratory Diagnostic Center

لابراتوار طبی سفیر
یک نام مطمئن در عرصهٔ
اجرا معاینات معیاری لابراتواری

هرنوع معاینات لابراتواری از قبیل بیوشیمی، سیرولوژی، روتین خون، ادرار، مواد غایطه، TFT,Semin Analysis پتالوژی و کلچر با سامان و لوازم مجهز و مدرن لابراتواری توسط دوکتوران و تکنالوجستهای مجرب با معیارات لابراتواری اجرا میگردد.

آدرس:
کابل، منزل دوم سپین زر پلازه،
نزدیک سینما بهارستان کارته پروان.
۰۷۹۹۱۵۲۳۲۹-۰۷۷۲۱۲۸۵۸۳
غزنی: منزل دوم اپارتمان دوم
فرخی هوتل بازار صرافی شهر غزنی
۰۷۰۰۹۲۸۴۹۸
لغمان: شهر مهتر لام بابا، مقابل ریاست برق
مارکیت حاجی طاؤس
۰۷۹۹۸۷۸۴۲۳ - ۰۷۷۸۴۵۵۷۷۸
Email:
safirlab_kbl@yahoo.com

کلینیک دیوان بیگی
AIMA

داکتران مجرب، لابراتوار مجهز،ادویه با کیفیت
مکان خوب برای معالجه و چیک اپ عمومی شما واطفال تان.
با چیک اپ عمومی خود و فامیل تان را از امراض قابل وقایه نجات بدهید!

آدرس: کوته سنگی، ساحه دیوان بیگی، کوچه چهارم.
با همکاری تخنیکی انجمن طبی اسلامی افغانستان.
موبایل: 0782040294 - 0202563051 - 0202563050

مرکز تولید و نشر برنامه های اسلامی
موسسه هنری پیمان

نشرات ما را در صفحات مجازی ذیل تماشا نمایید:
www.islampayman.com
YouTube www.youtube.com/user/paymanfilm/videos
Page: صفحه پیمان فلم (رسانه خبر، انتشارات)
Skype: Paymanfilm.co1
نشرات روزانه ای ما در: WhatsApp: 0093777464636 & 0093777170896
ایمیل ها: Payman@islampayman.com & art_jawad@yahoo.com
شماره های تماس: 0093786170896 - 0093700712814